

اونۍ راستنیدنه عودت
هفته نامه

د افغـــــــــــــانستان اسلامي امارت
د کـــډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت
مـــــــــــــالي او اداري معینیت
د اطـــــــــلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطـــــــــلاعاتو آمـــــــــریت

۹٤ یمه ګڼه،۱۴۰۴ سلواغه: لومړی مخ/ شماره ۹٤ دلوه ۱۴۰۴:صفحه


## د اشرفیه مدرسې علماوو د کډوالو چارو وزارت له همکاریو خوښي څرګنده کړه او له تعلیمي ادارو سره یې د اسلامي امارت ملاتړ وستایلو

د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزیر محترم مولوي عبدالکبیر د اشرفیه دیني مدرسې له څو تنو مدرسینو سره وکتل

۱۴۰۴ سلواغي ۲۸ د اشرفیه مدرسې علماوو د کډوالو چارو وزارت له همکاریو خوښي څرګنده کړه او له تعلیمي ادارو سره یې د اسلامي امارت ملاتړ وستایل.

راغلیو مدرسینو یادونه وکړه، چې په هېواد کې د علماوو د هڅو او حکومت د ملاتړ په پایله کې ځوان نسل ته د تعلیم ښه زمینه برابره شوې ده.

دوی د خپلو خبرو پر دوام په خوست کې د اشرفیه مدرسې ځیني وړاندیزونه له محترم وزیر سره شریک کړل.

محترم مولوي عبدالکبیر راغلیو علماوو ته ښه راغلاست وویل او د دیني زده کړو په برخه کې یې د هغوی هڅې وستایلې.

محترم وزیر زیاته کړه، چې ولس ته خدمت د اسلامي نظام مسوولیت دی او شته امکاناتو ته په پام د خلکو ستونزو ته رسېدنه کېږي.

د ناستې په پای کې محترم مولوي عبدالکبیر د اشرافیه مدرسې وړاندیزونو ته د رسېدنې یادونه وکړه.



## وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان قرعه کشی مهاجرین متقاضی حج را برگزار نمود

قرعه کشی ۳۰۰ تن مهاجرین افغان مقیم کشور های ایران، پاکستان و سایر کشور ها که جهت ادای فریضه حج ثبت نام کرده اند با حضور معین مالی واداری، رییسان مرکزی و نماینده های ریاست عمومی اداره امور و وزارت ارشاد، حج و اوقاف در تالار کنفرانس های این وزارت انجام شد.

در آغاز، محترم شیخ کلیم الرحمن فانی معین مالی واداری گفت: خوشحال هستیم امروز شاهد برگزاری برنامه با برکت هستیم که درآن مهاجرینی که قصد ادای فریضه الهی را دارند قرعه کشی آن صورت میگیرد.

محترم فانی افزود: مشرف شدن به زیارت حرمین و شریفین یکی از نعمات خدا و به فضل بزرگ الله متعال صورت میگرد نه به مال و ثروت و یقیناً حج فریضه عظیم و فرمان اقدس الهی است که می توانند در تحول و سازندگی انسان نقش شگرف و معجزه آسایی داشته باشند.

سپس، مولوی احمد الله احمدی رییس انسجام امور اتشه ها پیرامون موضوع و سهمیه حجاج معلومات داده گفت: از میان بیش از ۳ هزار تن مهاجرین متقاضی حج امروز قرعه کشی ۳۰۰ تن صورت میگیرد که شامل کشورهای ایران، پاکستان، کشور های آسیایی و اروپایی میباشد.

گفتنی است از میان افراد ثبت نام شده، ۱۲۰ تن مقیم ایران، ۱۰۵ تن مقیم پاکستان ۷۵ تن از سایر ممالک آسیایی و اروپایی پس از قرعه کشی، انتخاب و جهت طی مراحل اسناد شان به وزارت حج و اوقاف معرفی می گردند.

قابل یاد آوری است درچهار دهه اخیر مهاجرین افغان ازاین فریضه بی بهره بوده اما با روی کار آمدن امارت اسلامی افغانستان سال چهارم است که سهمیه مهاجرین مشخص و زمینه آن برابر شده است.



## د مهاجرینو چارو وزارت د دفتر رییس د یوه الماني شرکت له استازو سره ولیدل

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د دفتر رییس ښاغلي مولوي سید احمد بنوري، په خپل کاري دفتر کې د یوه الماني شرکت له استازو سره ولیدل.

په دې ناسته کې د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت او الماني شرکت تر منځ د همکاریو پر پراختیا، د کډوالو اړوند موضوعاتو او د احتمالي ګډو پروګرامونو په اړه خبرې وشې.

ښاغلي بنوري له ایران او پاکستان څخه د جبري راستنېدونکو په ستونزو او د هغوی په لومړنیو اړتیاوو خبرې وکړې او د یاد شرکت استازو په دې برخه کې د همکارۍ ډاډ څرګند کړ.

دا ناسته د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت او نړۍوالو شریکانو تر منځ د لا زیاتو همغږیو او عملي مرستو د پیل په موخه تر سره شوه.



## په کابل کې له لسګونو راستنو شویو کورنیو سره مرسته وشوه

د هغو ژمنیو مرستو پر دوام، چې د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزیر محترم مولوي عبدالکبیر لخوا د اهل خیر کسانو په همکارۍ پیل شوې وې، د کابل په خاک جبار ولسوالۍ کې له پاکستان څخه ۸۴ راستنو شویو کورنیو سره د خوراکي توکو مرستې وشوې.

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د رهبرۍ لخوا د اهل خیر کسانو

په همکارۍ هرې کورنۍ ته خوراکي او غیرخوراکي توکي، چې یوه بوری وره، ۲ بورۍ وریجې، ۳ کیلو شین او تور چای، ۱۰ کیلو بوره، یو من لوبیا، ۵ کیلو چڼې، ۲ بوتله غوړي، ۴ کیلو مکروني، ۲ پاکټه مالګه، ۵ کیلو چاکلیټ او ۱۰ چکۍ صابون پکې شامل و، ووېشل شوې.

د یادونې وړ ده، چې دغه مرستې به په راتلونکې کې هم له ګاونډیو هېوادونو څخه د راستنېدونکو لپاره دوام ولري.

د افغانستان اسلامي امارت له راستنېدونکو او کډوالو څخه هر اړخیز ملاتړ ته ژمن دی.



## توزیع خرما برای خانواده های برگشت کننده در شهر کابل آغاز شد

توزیع خرما مساعدت بنیاد خیریه ملک سلمان کشور عربستان سعودی برای خانواده های برگشت کننده کشور های همسایه در کمپ ترمینال پایتخت شهر کابل، آغاز شد.

محترم مولوی محمود الحق احدی رییس پالیسی و پلان این وزارت با قدردانی از این کمک گفت: این برنامه شامل توزیع ۴ هزار کارتن خرما برای خانواده های برگشت کننده است و در مرحله نخست، حدود ۱۰۰ خانواده از این کمک‌بهره‌مند شده‌اند.

محترم احدی با اطمینان و شفافیت کامل در توزیع آن به مهاجرین از رهبری این بنیاد تقاضا نمود که به کمک‌های شان برای مردم مستحق افغانستان ادامه بدهند.

قرار است در روز های آینده خانواده های دیگر مهاجر برگشت کننده نیز از این کمک مستفید گردند.

طبق یک خبر دیگر، برای ۳۶۰ تن برگشت کننده در کمپ ترمینال پایتخت شهر کابل یک جوره کرمچ مساعدت بنیاد خیریه سیلاب نیز توزیع شد.

رهبری امارت اسلامی توجه ویژه‌ای به وضعیت بازگشت‌کنندگان دارد و تلاش‌ها برای فراهم‌سازی تسهیلات بیشتر در بخش‌های مختلف در فصل سرمای زمستان ادامه خواهد یافت.




## په ننګرهار کې یو ښوونځی ګټې اخیستنې ته وسپارل شو

د ننګرهار د مهاجرینو چارو ریاست په همکارۍ د دغه ولایت په پیچراګام ولسوالۍ کې یو ښوونځی د مهاجرینو چارو رییس او سیمه‌ییزو وګړو په شتون کې پرانیستل او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

دغه ښوونځی پر ۵ جریبه ځمکه په دوه پوړیزه ودانۍ کې، چې ۱۲ درسي خونې، دوه اداري خوني، یوه ازمایښتي خونه، کمپیوټر لب، د اوبو رسولو شبکه او د لمریزې برېښنا سیستم لري، د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د

عالي کمېشنرۍ په مالي ملاتړ د سید شیرزاد ساختماني شرکت له لوري د ۲۸۵ زرو امریکایي ډالرو پر ارزښت جوړ شو.

د ننګرهار د مهاجرینو چارو رییس ملا عزیز الرحمن سرحد د یاد ښوونځي د جوړولو په برخه کې د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ هڅې وستایلې او له نورو کورنیو او بهرنیو بنسټونو څخه یې د ننګرهار په ټولو ولسوالیو کې د ورته بنسټیزو پروژو د پلي کولو غوښتنه وکړه.

نوموړي ژمنه وکړه، چې ټولو موسسو ته به د اسلامي امارت له اصولو سره سم د ننګرهار په ټولو سیمو کې راستنو شویو ته په پوره ډاډ د خدمت کولو زمینه برابره کړي.



## بیش از ۲۰۰ تن مهاجر پس از رهایی از زندان های کشور پاکستان برگشت نمودند

۲۱۴ تن از افغان های مهاجر محبوس از زندان های کشور پاکستان در هفته روان، رها و پس از آزادی به کشور برگشت نمودند.

به اساس گزارش آمریت انتقالات مهاجرین ریاست امور مهاجرین و عودت کننده گان ولایت قندهار در سپین بولدک افراد یاد شده مدت یک روز الی ۲ ماه را دربند بودند که پس از ثبت در آن آمریت و دریافت مساعدت های بشری به محلات اصلی شان انتقال شدند.

## د هېواد په ۳ ولایتونو کې تر ۳ زرو زیاتو کورنیو ته د غنمو او نغدي مرستو لړۍ پیل شوه

د عالیقدر امیر المومنین حفظه الله د فرمان له مخې، د سلواغې پر ۲۷مه، په کاپیسا، ارزګان او پروان کې ۳ زره او ۶۰۰ راستنو شویو کورنیو ته د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزیر، والیانو او نورو سیمه‌ییزو چارواکو په شتون کې د غنمو او نغدي مرستو لړۍ پیل شوه.

په دغې لړۍ کې د عالیقدر امیرالمومنین د ځانګړې لار ښوونې پر بنسټ د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت له لورې، له پاکستان او ایران څخه هرې راستنې شوې کورنۍ ته ۵ بوجۍ غنم او ۵ زره افغانۍ نغدې ورکول کېږي.

راستنو شویو له دغو مرستو خوښي څرګنده کړه او ویې ویل، چې دغه مرستې به یې د کورنیو لومړنۍ اړتیاوې پوره کړي.

دې ته د ورته برنامو له پلي کولو څخه د اسلامي امارت بنسټیزه موخه له راستنو شویو کورنیو څخه ملاتړ، د هغوی اقتصادي ستونزې کمول او د ښه ژوند زمینه برابرول دي.

## در ۷ ولایت کشور نزدیک به ۳ هزار خانواده کمک های بشردوستانه را دریافت نمودند

برای ۲۷۷۲ خانواده بیجاشده، برگشت کننده، آسیب پذیر و جامعه میزبان در ولایات کابل، فراه، لغمان، ننگرهار لوگر، غزنی و بلخ کمک های نقدی، خوراکی و غیر خوراکی توزیع شد.

طبق گزارشات از ولایات، برای ۶۰۴ خانواده در کابل مبلغ ۴ میلیون ۱۹۴ هزار و ۴۱۵ افغانی و ۱۲ قلم مواد خوراکی، برای ۱۷۷ خانواده در فراه مبلغ ۹۶ هزار افغانی و مقدار ۴۳۲ کیلو گاز مایع، برای ۲۳۲ خانواده در لغمان بسته های پوشاک زمستانی خیمه و کمپل، برای ۱۰۵۲ خانواده در ننگرهار ۶ قلم مواد خوراکی و مبلغ ۵۲۰ هزار افغانی، برای ۳۸۱ خانواده در لوگر ۵ قلم مواد خوراکی، برای ۱۵۶ خانواده در غزنی مبلغ یک میلیون و ۹۸۲ هزار افغانی، برای ۱۷۰ خانواده در بلخ مبلغ ۲۵۰ هزار افغانی و ۲ بوری ذغال کمک نهاد های همکار و اشخاص خیر بود که خانواده های متذکره آن را پس از شناسایی بدست آوردند.

همچنان، برای ۱۹۰۹ تن افراد مستحق در نواحی مختلف شهر کابل مبلغ ۵ میلیون و ۵۳۶ هزارو ۱۰۰ افغانی نیز کمک نهاد های همکار بود که افراد متذکره آن را پس از شناسایی دریافت نمودند.